زه پوهېږم چې ته يوه ډېره يې، نه زيان رسولی شي او نه ګټه، که ما رسول ﷺ نه وای ليدلی چې ته يې ښکل کړي يې ما به ته نه وې ښکل کړې

له عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې: هغه د حجر الأسود خواته لاړ او هغه يې ښکَل کړ، بيا يې وويل: زه پوهېږم چې ته يوه ډېره يې، نه زيان رسولی شي او نه ګټه، که ما رسول ﷺ نه وای ليدلی چې ته يې ښکل کړي يې ما به ته نه وې ښکل کړې».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

امير المؤمنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه د کعبې په زاويه کې حجر الأسود ته ورغی او ښکَل يې کړ، بيا يې وويل: «زه پوهېږم چې ته يوه ډېره يې، نه ته زيان رسولی شي او نه ګټه، که چېرې ما رسول ﷺ نه وای ليدلي چې ته يې ښکَل کړې يې ما به ته نه وې ښکل کړې.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3024